د افغـــــانستان اســـــلامي امــــارت

د ارشــــاد، حج او اوقــــافو وزارت

د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او

ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو

ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

۲۱/ صفر المظفر /۱۴۴۷ هـ، ق موافق ۲۴ /اسد /۱۴۰۴هـ، ش

# د کورنۍ (والدَينو، خاوند ، ميرمنې او اولادونو) د حقونو پوره رعايت کول ډېر ضروري دي.

**بسم الله الرحمن الرحيم**

الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيدنا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين وبعد.

قال الله سبحانه وتعالى:( وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ)[البقرة: ۲۲۸]

**درنو حاضرينو او محترمو اوريدونکو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

په اکثرو کورنيو کې شـــخړې، جنجالونه، بې اتفاقي وي ، د کورنۍ غړي يو له بل څخه خپه وي ، ددې اصـــلي وجه د شريعت څخه لرې والی دی ؛ ځکه چې اســـلامي شريعت د کورنۍ د غړو لپاره حقوق مقرر کړي دي، چې ځينې حقوق د واجبو په مرتبه کې دي ، ځينې يې د ســـنتو او مســـتحبو په مرتبه کې دي ، که چيرې د کورنۍ غړي يو د بل حقوق پوره رعايت کړي ؛ نو په کورنۍ کې به تل خو شحالي وي او هيڅکه به په کې زړه بداوی نه وي . د کورنۍ غړي به هم يو له بل څخه راضي وي او هم به الله جل جلاله له دوی راضي وي او د کورنۍ د غړو ترمنځ به همکاري او همدردي موجوده وي.

د کورنۍ د غړو حقوق په لاندې ډول دي:

**۱- د والدَينو، مور او پلار حقوق.**

**الف: د والدَينو ، مور او پلار سره نيکي او احسان کول په اولادونو باندې لازمي حق دی.**

د والدينو مور او پلار سره نيکي کول ، د هغوی خدمت کول ، د والدينو طاعت کول، د والدينو سره د مينې اظهار کول ،والدينو ته نفقه تيارول او ورکول، او د مور او پلار سره غوره اخلاق کارول دي او د مور او پلار شکر اداء کولو څخه عبارت دي.

د والدَينو مور او پلار د حقوقو رعايت دومره مهم او ضروري دی چې الله جل جلاله په قرآن عظيم الشان کې د مور او پلاره سره نيکي کول چې د مور او پلار حق دی، د خپل حق سره پيوسته ذکر کړی دی چې هغه د الله عبادت دی.

الله جل جلاله فرمايلي دي: (وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا) [النساء:۳٦]

ترجمه:- او عبادت کوئ تاسې د الله! او مه شريکوئ تاسې له ده سره هيڅ شی!او نيکي کوئ له مور او پلار سره.

که چیرې پورتنیو آیتونو ته ځیر شو، نو وینو چې الله جل جلاله لومړی خپل حق بیان کړی دی چې په هغه ایمان راوړل دي او د هغه عبادت کول دي او په دوهمه مرتبه کې یې د والدینو حق ذکر کړی دی چې هغه د مور او پلار سره احسان کول دي او احسان کول ټولو هغو خبرو ته شامل دی چې مخکې مونږ ذکر کړل.

همدارنګه الله تعالی د والدینو سره په احسان کولو وصیت او امر کړی دی. الله تعالی فرمايلي دی:(وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا)[العنکبوت:۸]

ترجمه:- او (مؤکد) امر کړی دی مونږ پر انسان له مور پلار سره د نیکی.

الله جل جلاله د مور او پلار شکر اداء کول د خپل شکر اداء کولو سره یوځای ذکر کړی دی چې دا د والدینو د شکر د حق پر اهمیت دلالت کوي. الله جل جلاله فرمایلي دي: (أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ إِلَيَّ الْمَصِيرُ) [لقمان: ۱۴]

ترجمه:- چې شکر کوه ماته او مور پلار خپل ته! خاص بیا ماته دي راتله (ستاسو ای انسانه!).

په یو بل مبارک آیت کې راځي:(وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ إِحْسَاناً حَمَلَتْهُ أُمُّهُ كُرْهاً وَوَضَعَتْهُ كُرْهاً وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلاثُونَ شهرا)[الاحقاف:۱۵]

ترجمه:- او وصیت حکم مو کړی دی هر انسان ته له مور او پلار خپل سره د احسان نېکی کولو. پورته کړی ( ساتلی) یې دی ده لره (په نس خپل کې) مور د ده په سختئ سره، او (بیا)یې ایښودلی (ځیږولی) دی ده لره په سختئ سره. او (دا) پورته کول ساتل د ده (په نس د مور کې) او جلا کول د ده (له تي نه) دېرش میاشتې وي.

وَسُئِلَ الْحَسَن: مَا بر الْوَالِدين؟ قَالَ: أَن تبذل لَهما مَا ملكت، وتطيعهما فِيمَا أمراك مَا لم يكن مَعْصِيّة، قِيلَ: فَمَا العقوق؟ قَالَ: أَن تهجرهما وتحرمهما). شرح السنة للبغوي (۱۳ /۲٦)، البر والصلة، لابن المبارك رواية الحسين بن حرب( ۷/۱)

ژباړه:- د حسن بصري رحمه الله څخه پوښتنه وشوه چې د والدینو سره احسان څرنګه وي؟ هغه وویل: د والدینو سره احسان دادی چې ته خرڅ کړې د هغوی لپاره هر هغه څه چې ته یې مالک یې، او دهغوی اطاعت وکړې په هغه څه کې چې تاته یې په اړه امر کوي ؛ خو چې ګناه نه وي. د حسن بصري رحمه الله څخه پوښتنه وشوه چې د مور او پلار عقوق او نافرماني څرنکه وي؟ هغه ورته وویل: د والدینو څخه نافرماني داده چې ته هغوی پریږدې او هغوي محرومه کړې د خپل مال خدمت څخه.

د مور او پلار شکر اداء کول د والدینو د حقوقو پرځای کول دي؛ کوم چې الله جل جلاله واجب کړي دي او ر سول الله صلی الله علیه وسلم یې امت ته د پرځای کولو ترغیب ورکړی دی.

د والدینو مور او پلار له حقوقو څخه د هغوی سره د مهربانئ څخه په ډکه لهجه خبرې کول دي او د هغوی په مخکې په داسې خبرې د تلفظ کولو څخه ځان ساتل دي چې د هغوی زړه ور باندې ناراضه کیږي او تل باید ورته دعاء وشئ.الله جل جلاله فرمایلي دي:( وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلاهُمَا فَلا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَهُمَا قَوْلاً كَرِيماً وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ رَبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيراً)[الاسراء:۲۳]

ترجمه:- او حکم فرمایلی دی رب ستا چې عبادت مه کوئ تاسې (د بل هیچا) مګر یواځې د همدغه (الله)، او (احسان کوئ) له والدینو( مور او پلار) سره په احسان کولو سره، او که چیرې هرومرو ورسېد تا څخه زوړوالي ته یو له دې دواړو د دوی (یعنې مور او پلار)؛ نو مه وایه ته دې دواړ ته (کلمه د) اف، او مه رټه دوی دواړه، او وایه دې دواړو ته خبره پسته (ادبناکه).

**توضیح او تشریح:** ددې آیت په تفسیر کې مفسرینو مختلف قسم معنا ګانې کړي دي.

امام مجاهد رحمه الله د: (إما يبلغن عندك الكبر أحدهما أو كلاهما فلا تقل لهما أف) په معنا کې وایې چې کله ته د هغوی څخه ګندګي او خیری لری کوې، نو هغوی ته به اف نه وایې لکه څرنګه چې ته وړوکی وې او چې کله هغوی درڅخه ګندګي او متیازې پاکولی تاته یې څه نه ویل. الدر المنثور (۵ /۲۵۸)

حضرت عروة بن زبیر رضي الله عنه د (وقل لهما قولا كريما) په معنا کې وايي چې مه يې منع کوه له هغه څه نه چې هغوی يې غواړي.
حسن بصري رحمه الله د(وقل لهما قولا كريما) په معنا کې وايي چې ته به ورته داسې وايې : ای پلارجانه، ای مورجانې او هيڅکله به ورته د هغوی په نومونو آواز نه کوئ.
د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی هغه وايي: أتى رجل رسول الله صلى الله عليه و سلم ومعه شيخ فقال :«من هذا معك ؟ » قال : أبي قال : لا تمشين أمامه ولا تقعدن قبله ولا تدعه باسمه ولا تستب له». الدر المنثور (٥ /٢٥٨)
نبي عليه السلام ته يو ځل يو سړی راغلې او د هغه سره يو سپين ږيری ؤ. نبي عليه السلام ورته وفرمايل: دا څوک دی؟ هغه سړي وويل: دا زما پلار دی. نبي عليه السلام ورته وفرمايل: د ده څخه به مخکې نه ځئ او دده څخه به مخکې نه کينئ او ده ته به په نوم باندې آواز نه کوئ او داسې ناکاره عمل او قول به نه کوئ چې د هغې په سبب هغه تا وکنځي.امام زهير بن محمد رحمه الله د : (وقل لهما قولا كريما ): په معنا کې وايې: كله چې والدين تاته آواز وکړي، نو ته ورته ووايه: ستاسې په طاعت کې ولاړ يم او ستاسو خبرې ته مې غوږ دی.
امام عن قتادة رحمه الله د: (وقل لهما قولا كريما) : په معنا کې وايې چې ووايه دوی دواړو ته نرمه او پسته خبره .
يو شخص سعيد بن المسيب رحمه الله ته وويل چې په قرآن كريم د مور او پلار چې څه حقوق ذكر شوي دي دټولو په مطلب پوهه شوم ؛ مګر ددې آيت: وقل لهما قولا كريما : په معنا پوهه نشوم. سعيد بن المسيب رح ورته وويل: د دې مطلب داسې دی لكه دګناهګار غلام (مربی) خبره کول د خپل پوچ خولي بادار په مخ کې.
حضرت عروة بن زبير رضي الله عنه ددې آيت ( وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ) په معنا کې وايې: ځان ورته دومره نرم کړه ترڅو هغوی د هغه څه نه امتناع ونکړي چې د هغوی خوښ وي. الأدب المفرد للبخاری (ص: ٢)،تفسير ابن أبي حاتم (٩ /١٥١)
امام سعيدبن جبير رحمه الله بيا د پورتني آيت په معنا کې وايې: عاجزي اختيار کړه د مور او پلار په مخ کې لكه څرنګه چې عاجزي اختياروي غلام د خپل پوچ خولي او سخت زړه درلودونكي بادار په مخكې. الدر المنثور ، للسيوطي(٥ /٢٥٩)
د والدينو سره نيكي كول د هغوی حق دی او د مور او پلار سره د نيكي کول د الله جل جلاله په لاره کې د جهاد څخه پرته د نورو ټولو اعمالو څخه غوره ده.په يو حديث شريف کې راځي: عبد الله بن مسعود قال: سألتُ النبي صلى الله عليه و سلم: أيّ العمل أحبّ إلى الله؟ قال: «الصلاة على وقتها» قال: ثم أي؟ قال:«ثم برّ الوالدين» قال: ثم أي؟ قال:«الجهاد في سبيل الله».متفق عليه
ژباړه:- عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي ما دنبي عليه السلام څخه پو ښتنه وکړه چې الله تعالى ته کوم عمل ډير خوښ دی؟ نبي عليه السلام وفرمايل: په خپل وخت سره لمونځ كول. بيا مې پو ښتنه وکړه چې ددې څخه ورو سته بل کوم عمل الله تعالى ته ډير خوښ دی؟ نبي عليه السلام وفرمايل : ددې څخه وروسته د والدينو سره نيكي كول (الله تعالى ته ډير خوښ دي)، بيامې پوښتنه وکړه چې ددې څخه وروسته بل کوم عمل الله تعالى ته ډير خوښ دی؟ نبي عليه السلام وفرمايل: د الله تعالى په لاره کې جهاد كول.
په ځينو وختونو کې د مور او پلار خدمت د جهاد څخه هم بهتره دی. په يو حديث شريف کې راځي: عن عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما، يقول: جاء رجل إلى النبي صلى الله عليه وسلم، فاستأذنه في الجهاد، فقال: «أحَيّ والداك؟»، قال: نعم، قال: «ففيهما فجاهدْ».متفق عليه
ژباړه:- د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي: يو سړی راغلی نبي عليه السلام ته او د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يې جهاد ته دتللو اجازت وغوښتلو. نبي عليه السلام ورته وفرمايل: آيا ستا والدين ژوندي دي؟ هغه وويل: هو! ژوندي دي. نبي عليه السلام ورته وفرمايل: پس د هغوی دواړو په حق کې جهاد وکړه.
يعنې د هغوی په خدمت کې خپل مال خرچ کړه او د هغوی په خدمت کې كوښښ وکړه.

**ب:- د والدينو، مور او پلار بل حق د هغوی طاعت کول دي او د هغوی د آواز اجابت کول دي.**

اولادونو ته په کار ده چې د مور او پلار طاعت وکړي او دهغوی آواز ته لبيک ووايې او دهغوی ضرورتونه پوره کړي په کمال محبت او شـوق سره او د هغوی د حاجتونو په پوره کولو کې کوښښ وکړي ، پرته له کوم تردد، سستی، او بې باکی. په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: أَوْصَانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتِسْعٍ: «لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ شَيْئًا؛ وَإِنْ قُطِّعْتَ أَوْ حُرِّقْتَ، وَلَا تَتْرُكَنَّ الصَّلَاةَ الْمَكْتُوبَةَ مُتَعَمِّدًا، وَمَنْ تَرَكَهَا مُتَعَمِّدًا بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ، وَلَا تَشْرَبَنَّ الْخَمْرَ، فَإِنَّهَا مِفْتَاحُ كُلِّ شَرٍّ، وَأَطِعْ وَالِدَيْكَ، وَإِنْ أَمَرَاكَ أَنْ تَخْرُجَ مِنْ دُنْيَاكَ فَاخْرُجْ لَهُمَا». الأدب المفرد، للبخاري (ص: ٢٠)، حلية الأولياء وطبقات الأصفياء (٩ /٣٠٦)

ژباړه:- د حضرت ابودرداء رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي چې ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم په نهو خبرو وصيت او نصيحت کړی دی: يو داچې د الله تعالى سره شريک مه نيسه، ولو که ته ټوټه ټوټه شئ او يا و سوزول شئ، بل داچې فرضي لمونځ مه پريږده په قصد سره او چاچې فرضي لمونځ په قصد سره پريښود د هغه څخه ذمه لرې شوه(د الله) او هيڅکله شراب مه څښه ،ځکه شراب کيلي د هر شر ده او بل داچې د والدينو دې اطاعت وکړه ، ولو که والدين درته امر وکړي چې ووځه ددنيا خپلې څخه، نو ووځه د هغوی داطاعت له وجی نه. يعنې ولو که درته امر وکړي چې د ځينې خپلو دُنيوي کارونو څخه لاس واخله ، ترڅو د هغوی خدمت ته فارغ شې؛ نو تاته په کار دي چې د هغوی خبره ومنې.

**ج:- په اولادونو باندې د والدينو ، مور او پلار د حقوقو له جملې څخه په والدينو باندې انفاق کول دي په نيکه طريقې سره.**

که چيرې مور او پلار محتاج وي ؛ نو په اولادونو فرض دي چې په خپلو والدينو باندې خپل مال خرچ کړي او هغوی ته خوراک ، څښـاک او لباس برابر کړي ؛ ځکه دا د هغوی حق دی په اولادونو باندې. په يو حديث شريف کې راځي :«أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ لِي مَالًا وَوَلَدًا، وَإِنَّ وَالِدِي يَحْتَاجُ مَالِي؟ قَالَ: «أَنْتَ وَمَالُكَ لِوَالِدِكَ، إِنَّ أَوْلَادَكُمْ مِنْ أَطْيَبِ كَسْبِكُمْ، فَكُلُوا مِنْ كَسْبِ أَوْلَادِكُمْ» سنن أبي داود (٣ /٢٨٩)

ژباړه:- يو سړی نبي عليه السلام ته راغی او ورته يې وويل: ای د الله رسوله! بيشکه زما مال هم شته او اولاد هم شته او زما پلار زما مال ته ضرورت لري . نبي عليه السلام ورته وفرمايل: ته او ستا مال ستا دپلار دي ، بيشکه ستاسې اولاد ستاسو پاکيزه کسب دی، نو خورئ دخپل اولاد د کسب څخه.

د ابن ماجه په لفظ کې راځي چې هغه سړي وويل:«وَإِنَّ أَبِي يُرِيدُ أَنْ يَجْتَاحَ مَالِي، فَقَالَ: «أَنْتَ وَمَالُكَ لِأَبِيكَ». ابن ماجه (٢ /٧٦٩)

ژباړه:- زما پلار غواړي چې زما ټول مال يوسې له ځانه سره؟ نبي عليه السلام ورته وويل: ته او ستا مال ستا د پلار دي.

**د:- په اولادونو باندې د والدينو ، مور او پلار بل حق دادی چې د هغوی څخه به اجازه اخلي.**

په اولادونو باندې لازم دي چې کله کوم کار کول غواړي، يا سـفر کول غواړي او يا بل کوم کار کول غواړي چې د مور او پلار څخه اجازت وغواړي او د هغوی مشوره واخلي او د هغوی رايه او نظر دې مهم او اړين وبولي؛ ځکه مور او پلار د دنيا او آخرت په کارونو کې زياته تجربه لري . اولاد ته په کار دي چې د مور او پلار د مشورو احترام وکړي او د هغوی نظرونو ته په سپکه سترګه ونه ګوري.

او دا د مور او پلار حق دی چې کله د هغوی اطاق ته ور داخليږي بايد اجازه وغواړي.

**٢- د اولادونو پر والدينو باندې حقوق.**

لکه څرنګه چې والدين په خپلو اولادونو حقوق لري ، دارنګه اولادونه هم په خپلو والدينو حقوق لري . عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمايلي دي (إنَّ الوالِد مسؤول عن الولَد، وإنَّ الولد مسؤول عن الوالد) کتاب الزهد؛ الهناد السري (٢ / ٤٨٦)

ژباړه:- بيشکه پلار مسئول دی د بچي په باره کې او بيشکه بچی مسئول دی د پلار په باره کې.

په يو بل روايت کې راځي نبي عليه السلام فرمايلي دي: (رَحِم اللهُ والدًا أعان ولدَه على برِّه) ابن أبي شيبة (٨ / ٣٥٧)

ژباړه:- الله تعالی دې په هغه پلار باندې رحم وکړي چې کومک او مرسته کوي د خپل بچي سره په نیکۍ د هغه کې.

د اولادونو په خپلو والدینو باندې زیات حقوق دي چې ځینې یې په لاندې توګه دي:

**الف:-د خپل ماشوم په غوږونو کې آذان او اقامت کول.**

کله چې د چا ماشوم پیداشي ؛ نو په مور او پلار یې دا حق دی چې د هغه په ښي غوږ کې آذان وکړي او په چپ غوږ کې یې اقامت ووایې.

**ب: د اولاد عقیقه ورکول.**

کله چې ماشوم پیدا شي ؛ نو د نارینه او ښځینه ماشومانو څخه عقیقه کول په والدینو باندې د اولادونو حق دی.

**ج:ـ په ماشوم باندې غوره نوم ایښودل .**

کله چې د چا ماشـوم پیدا شي؛ نو د هغه په والدینو دا حق دی چې په هغه باندې غوره او نیک نوم کیږي. لکه عبدالله او عبدالرحمن او داســې نور. په حدیث شریف کې راځي: عن ابن عبَّاس قال: قالوا: یا رســولَ الله، قد علِمنا حقَّ الوالد، فما حقُّ الولَد قال: «أن يُحسن اسمَه، ويُحسن أدبَه» .شعب الإيمان للبيهقي (١١ / ١٣٣)

ژباړه:- د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې صحابه کرامو عرض وکړو چې ای د الله ر سوله! مونږ د پلار حق وپیژندلو(په اولاد باندې) ، نو د بچي حق څه دی؟ (په پلار باندې)، نبي علیه الســلام وفرمایل: د بچي حق دادی چې (والدین) دې ور باندې ښاسته نوم کیږي او ښایسته ادب دې ورته ور وښایې.

**د:- د اولاد ایماني تربیه کول .**

د اولاد له حقوقو څخه دادي چې د هغوی ایماني تربیه وشي. الله جل جلاله د اولاد د ایماني تربیې په اړه فرمایلي دي: ( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا) [التحريم: ٦]

ترجمه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! وساتئ تاسې ځانونه خپل او کور کهول خپل (په اطاعت د الله) له اور څخه .

د حضرت علي کرم الله وجهه څخه ددې آیت په تفسیر کې نقل دي چې هغه وایې: (أدِّبوهم وعلِّموهم) تفسير الطبري (١٢ / ١٥٧)، وتفسير ابن كثير (٨ / ١٨٨)

ژباړه:- دوی ته آدب ور وښایاست او علم ورته زده کړئ .

ایماني تربیت دادی چې غوره خویونه ورته وروښــایې او د بدو رذیلو خویونو څخه یې وســاتئ، دیني علوم ورته ور زده کړئ او په لمانځه یې عادت کړئ او د مشرـانو او علماوو او نوور خلکو احترام ورته ور زدکړئ او دخوراک او څښــاک، او خوب او له خوب څخه راپاڅیدو مسنونې طریقې ورته ور وښایاست.

**هـ :- اولاد ته علم ور زده کول په والدینو حق دی.**

اولادونو ته نافع علوم زده کول په مور او پلار حق دی ؛ ترڅو روښانه اینده ولري. په یو روایت کې راځي : عن أبي رافع أنه قال: قلتُ: يا رســول الله، أللولَد علينا حقٌّ كحقِّنا عليهم؟ قال:«نعم؛ حقُّ الولَد على الوالد أن يعلِّمه الكتابَةَ والسِّــباحةَ والرَّمي، وأن يورثه طيبًا» أخرجه البيهقي في الشُّعَب وغيرها بسند ضعيف، وقال السخاوي: وله طرق وشواهد.

ژباړه: د ابو رافع رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې ما وویل: ای د الله رســوله! آیا د بچي پر مونږ حق شــته لکه څرنګه چې زمونږ پر هغوی حق شته دی؟ نبي علیه السلام وفرمایل: هو! د اولاد په مور او پلار حق شته، د بچي په پلار دا حق دی چې هغه ته کتابت ور وښایي، په اوبو کې لامبو وهل وروښایې، هغه ته د غشي ویشتل وروښایي او هغه ته په میراث کې پریږدي ښه کارونه.

عن ســفيان الثوري:(يَنبغي للرجل أن يُكرِه ولدَه على طلب الحديث؛ فإنَّه مســؤول عنه، وقال: إنَّ هذا الحديث عِزٌّ، مَن أراد به الدنيا وجدَها، ومن أراد به الآخرةَ وجدها). رواه ابن منده في معرفة الصحابة وقال السخاوي ضعيف له شواهد. المقاصد الحسنة (١ / ٤٦٢)

ژباړه:- د سـفیان ثوري رحمه الله څخه روایت دی ، هغه وایې چې سـړي لره په کار دي چې خپل بچی د علم حدیث په طلب باندې مجبوره کړي، ځکه چې پلار مسـئول دی د هغه په اړه. او هغه وویل: بیشـکه دا حدیث عزت دی؛ څوک چې د حدیثو په زده کړه کې ددنیا اراده لري ؛ نو دنیا ور باندې پیدا کړي او څوک چې په حدیثو سره د آخرت اراده لري ؛ نو آخرت نیکي به ورباندې تر لاسه کړي.

**و:- د اولادنو ترمنځ په هدیه یا تحفه ورکولو کې مساوات او عدالت رعایتول د اولادونو حق دی.**

د اولاد ترمنځ په تحفه او هدیه ورکولو کې مساوات او عدالت رعایتول د هغوی په والدینو حق دی

په یو حدیث شریف کې راځي . عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ انْطَلَقَ بِى أَبِى يَحْمِلُنِى إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ اشْـهَدْ أَنِّى قَدْ نَحَلْتُ النُّعْمَانَ كَذَا وَكَذَا مِنْ مَالِى. فَقَالَ « أَكُلَّ بَنِيكَ قَدْ نَحَلْتَ مِثْلَ مَا نَحَلْتَ النُّعْمَانَ ». قَالَ لاَ. قَالَ « فَأَشْـهِدْ عَلَى هَذَا غَيْرِى». صحیح مسلم (٥ /٦٦)

ژباړه:- د نعمان به بشیر رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې زه بوتلم پلار خپل رسول الله صلی الله علیه وسلم ته او زما پلار وویل: ای د الله ر سوله! ما ورکړل نعمان ته دومره دومره (اندازه) زما د مال څخه. نبي علیه السلام ورته وفرمایل: آیا ټولو زامنو ته دې هغه اندازه مال ورکړل کوم چې دې نعمان ته ورکړی دی؟ زما پلار وویل: نه ! نورو ته مې نه دی ورکړی. نبي علیه السلام وفرمایل: نو په دې کار باندې زما څخه غیر بل څوک شاهد وګرځوه .

**ز:- که چیرې اولاد فقیران وي او پلار مالداره وي فقیر اولاد ته نفقه ورکول په پلار حق دی.**

که چیرې ټول اولاد یا په اولادونو کې کوم کس فقیر وي او پلار مال ولري ؛ ددغه فقیر اولاد حق دی چې پلار ورته نفقه ورکړي.

الله جل جلاله فرمایلي دي: (وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ) [البقرة: ٢٣٣]

ترجمه:- او ده پر هغه چا باندې چې بچي زیږول شـوی دی ورته(یعنی پلار)، روزي د دوی (یعنې د میندو) او کالي (جامې) د دوی (یعنې د میندو) په معروف سره.

همدارنګه په حدیث شریف کې راځي: «کفی بالمرء إثما أن یضیع من یعول» سنن النسائي الکبری (٥ /٣٧٤)

ژباړه:- کافي دی سړي ته دومره ګناه چې ضائع کړي هغه څوک چې دده په سرپرستۍ کې دي.

**حـ :- نارینه اولاد ته ښځه کول او ښځینه اولاد ته خاوند کول د اولادونو حق دی.**

الله تعالی د اولادونو اولیاوو ته فرمایې چې ستاسو په سرپرستۍ کې چې څوک وي او ښځه نلري او یا ښځه میړه نلري هغه په نکاح سره ورکړئ.الله تعالی فرمایلي دي :( وَأَنكِحُوا الأَيَامَى مِنكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ)[النور: ٣٢]

ترجمه:- نکاح و تړئ د هغه بې میړونو (خاوندانو) ښځو او سړیو له تاسې.او صالحان نېکان له مریو خپلو او له وینځو خپلو.

**تو ضیح او تشریح:** مفسرین وایي چې (الأیامی) د أیم جمع ده او ایم هغه ښځې ته ویل کیږي چې خاوند ونلري او هغه سړي ته هم ویل کیږي چې ښځه نلري برابره خبره ده،چې هغه اصـیل وي او که غلام وي. المحرر الوجیز، لابن عطیه ـــــ (٤ /٢١٩)، تفسـیر النسفي (٣ /١٤٤)

نارینه اولاد ته چې فقیر وي ښـځه کول او ښـځینه اولاد ته خاوند کول په مور او پلار د اولاد حق دی، ځکه چې په نکاح کولو سره ددوی عفاف او پاکدامني رامنځ ته کیږي او ددوی په عفاف او پاکدامني کې کوښښ کول د مور او پلار دنده ده.

په یو حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا أَتَاكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ خُلُقَهُ وَدِينَهُ فَزَوِّجُوهُ، إِلَّا تَفْعَلُوا تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ عَرِيضٌ» سنن ابن ماجه (١/ ٦٣٢)

ترجمه:- دابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم وفرمایل: کله چې تاسـو ته راشي هغه څوک چې تاسو راضي یاست د هغه له اخلاقو څخه او دهغه ددین څخه، نو په نکاح سره یې ورته ورکړئ(لور یا خور)، که چیرې دا کار ونه کړئ شئ به دا کار فتنه په ځمکه کې او فساد پراخه.

په يو بل حديث شريف کې راځي: عن أبي سعيد و ابن عباس قال : قال رسول الله صلى الله عليه و سلم:« من ولد له ولد فليحسن اسمه و أدبه فإذا بلغ فليزوجه فإن بلغ و لم يزوجه فأصاب إثما فإنما إثمه على أبيه». شعب الإيمان (٦ /٤٠١)

ژباړه:- د ابوسعيد خدري او عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی ، هغوی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: د چا چې اولاد پيدا شو، نو هغه لره دې نيک نوم کيږدي او نيک ادب دې ورته ور و ښائي او کله چې بالغ شو ؛ نو نکاح دې ورلره له چاسره وکړي، که چيرې دده اولاد بالغ شو او نکاح يې ورلره ونکړه او بيا ورڅخه کومه ګناه و شوه ، نو دده ګناه د هغه په پلار ده. يعنې دده د ګناه سبب يې پلار دی.

(عن قتادة قال كان يقال إذا بلغ الغلام فلم يزوجه أبوه فأصاب فاحشة أثم الأب). كتاب العيال، لابن أبي الدنيا (١ /٣٣٣)

ژباړه:- د حضرت قتاده رحمه الله څخه روايت دی هغه وايي چې خلکو به ويل چې کله هلک بالغ شو او پلار ورته ښځه ونکړه ، او ده کومه فاحشه عمل وکړ، نو پلار يې ګناهګار دی. (البته دا په هغه صورت کې چې هلک غني نه وي او پلار غني وي)

**۳- د خاوند حقوق پر ښځه.**

په اسلامي شريعت کې خاوند او ښځه يو پر بل حقوق لري ؛ مګر د خاوند حقوقو لره د ښځې پر حقوقو برتري حاصله ده.

امام جصاص رحمه الله ددې آيت (ولهن مثل الذي عليهن بالمعروف وللرجال عليهن درجة) په تفسير کې وايي: الله جل جلاله په دې آيت کې ددې خبر ورکړی دی چې هر يو خاوند او ښځه يو پر بل باندې حقوق لري؛ مګر د خاوند حقوقو لره برتري حاصله ده د ښځې د حقوقو په نسبت. أحكام القرآن للجصاص (٢ /٦٨)

پر ښځه باندې د خاوند حقوق په لاندې ډول دي:

**الف:- د خاوند طاعت کول او د خاوند له نافرمانۍ څخه ځان ساتل.**

الله جل جلاله سړی لره پر ښځه باندې درجه ورکړی ده او هغه درجه د سړي قوامت دي په ښځه باندې ، قوامت په امر کولو کې ، قوامت په متوجه کولو کې او قوامت په ساتنه کې، لکه څرنګه چې حاکمانو او ذمامدارانو ته په رعيت باندې قوامت حاصل دی.

او د سړو دا قوامت د هغو خصوصياتو له وجې دی چې الله تعالی سړي ته ورکړي دي؛ لکه جسمي قوت او توانايي، عقلي تکامل او ځيرکتيا او د ښځې هغه مالي مصارف چې الله تعالی د سړي باندې مقرر کړي دي. الله جل جلاله د خاوند ځينې حقوق پر ښځه باندې په دې مبارک آيت کې بيان کړي دي:(الرجال قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنْفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ)[النساء: ٣٤]

ترجمه:- سړي حاکمان( مقرر شوي) دي په ښځو باندې په سبب د دې چې فضيلت ورکړې دی الله ځينې د دوی ته پر ځينو نورو باندې، او په سبب د دې چې نفقه (لګښت) کوي دوی (پر دغو ښځو) له مالونو خپلو.

په يو بل آيت کې الله جل جلاله فرمايلي دي:(وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ)[البقرة: ٢٢٨]

ترجمه:- او شته دي ښځو لره (حقوق په مېړونو (خاوندانو) باندې په شان د هغو (حقوقو) چې په دوی دي (د خاوندانو) په معروف (ښه وجه) سره، او شته نارينه وو لره په دې ښځو باندې بهتروالی (فضيلت).

**توضيح:** حافظ ابن کثير رحمه الله د سورت النساء د آيت په تفسير کې وايي: يعنې سړي په ښځو باندې اميران دي او ښځې به د سړو طاعت کوي په هغه شان چې الله تعالی ورته امر کړی دی او د سړو طاعت دادی چې د هغه د اهل سره احسان کوونکې وي او د هغه دمال ساتونکې وي. «تفسير ابن کثير» (١ / ٤٩٢).

په حديث شريف کې راځي: وعن عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :(إِذَا صَلَّتِ الْمَرأَةُ خَمسَهَا، وَصَامَت شَهرَهَا، وَحَفِظَت فَرجَهَا، وَأَطَاعَت زَوجَهَا، قِيلَ لَهَا : أدخُلِي الجَنَّةَ مِن أيِّ أبوَابِ الجَنَّةِ شِئتِ) . رواه احمد

ژباړه:- د عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وايي چې رسـول الله صـلى الله عليه وسـلم وفرمايل: هر كله چې ښځه خپل پنځه ګوني لمونځونه اداكړي او د رمضان د مياشتې روژه ونيسي او خپل عورت ( له حرامو) و ساتي او د خپل ميړه پيروي وكړي، ورته به وويل شي جنت ته داخله شه له هرې دروازې چې غواړې.

په يو بل حديث كې راځي: عن الحصين بن محصن رضي الله عنه : أَنَّ عَمَّةً لَهُ أَتَتِ النَّبِي صلى الله عليه وسلم فِي حَاجَةٍ، فَفَرَغَت مِن حَاجَتِهَا، فَقَالَ لَهَا النَّبِي صـلى الله عليه وسـلم «أَذَاتُ زَوجٍ أَنتِ ؟» قَالَت : نَعم . قال : كَيفَ أَنتِ لَهُ ؟ قَالَت مَا آلُوهُ إلاَّ مَاعَجَزتُ عَنهُ » قَالَ : « فَانظُرِي أَينَ أَنتِ مِنهُ ؛ فَإنمَّا هُوَ جَنَّتکِ وَنَارُكِ). رواه احمد

ژباړه:- د حصـين بن محصـن رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي چې د هغه ترور (عمه) د رسـول الله صـلى الله عليه وسـلم حضور ته د يوه ضرورت په خاطر راغله او كله چې له خپل ضرورت څخه فارغه شوه، نو نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: آيا ميړه لرې؟ وه يې ويل :هو! لرم يې. نبي عليه السلام ورته وفرمايل: د هغه سره ستا چلند او معامله څرنګه دی ؟ هغه ښځې وويل حاجت يې پوره كوم، مګردا چې د هغه د حاجت د پوره كولو څخه عاجزه شـم. نبي عليه السـلام ورته وفرمايل : وګوره چې ته په كوم ځای كې قرار لرئ د هغه سره ؟ ځكه هغه ستا جنت هم دی او ستا دوزخ هم دی.

په يو بل حديث شريف كې راځي: عن ابْنَ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَتِ امْرَأَةٌ: يَا رَسُــولَ اللَّهِ، مَا جَزَاءُ غَزْوِ الْمَرْأَةِ؟ قَالَ:«طَاعَةُ الزَّوْجِ، وَاعْتِرَافٌ بِحَقِّهِ». المعجم الكبير للطبراني (٩/ ١٦٣)

ژباړه:- د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايې چې يوې ښـځې وويل: ای د الله رسـوله! د ښـځې د غزا كولو عوض څه شـی دی؟ نبي عليه السـلام ورته وفرمايل: د ښـځې ( د غزا اجر) د خاوند طاعت كول دي او د هغه په حق باندې اعتراف كول دي.

**ب:- د خاوند له حقوقو څخه پر ښځه باندې يو دادی چې د خاوند دكوره به پرته د خاوند داجازې څخه نه وځي.**

د خاوند په ښـځه بل حق دادی چې دوی به پرته دخاوند د اجازې څخه د هغه له كوره نه وځي. الله تعالی فرمايې: {وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأُولَى} [الاحزاب: ٣٣]

ترجمه:- او تاسو په خپلو كورنو كې قرار ونيسئ او تاسو د ړومبني جاهليت د زينت څرګندونې په شان زينت مه څرګندوئ.

په يو حديث شريف كې راځي:( إِنَّ الْمَرْأَةَ عَوْرَةٌ ، فَإِذَا خَرَجَتْ مِنْ بَيْتِهَا اسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ).مسند البزار (١/ ٣٢٥)صحيح ابن خزيمة (٣/ ٩٣)

ژباړه:- ښځه عورت دی كله چې ووزي له كوره (بدون د محرم ) وروسې شي شيطان (چې ګمراه يې كړي).

كه چيرې ښځه پرته دخاوند له اجازته له كوره ووتله ، خاوند كولی چې تاديباً يې ووهي. (البته كه چيرې پلاره يې مزمن مريض وي او بل څوک دخدمت نلري دهغې د خدمت لپاره وتلی شي).

اصل قاعده داده چې ښځې په كور كې په كيناستلو مأمور شوي دي او د كور څخه له وتلو نه ممنوع شوي دي. الموسوعة الفقهية الكويتية (١٩ /١٠٧)

امام كاساني رحمه الله د صحيح نكاح په احكامو كې وايي:(د صحيح نكاح له حكمونو څخه يو حكم دادی چې ښځه به د خاوند په كور پورې مقيد وي او د خاوند له كور څخه د وتلو نه به بنده او ممنوع وي ؛ ځكه الله جل جلاله فرمايي:{ أَسْكِنُوهُنَّ } ووسوئ ښځې (په كورونوكې) او امر په ا سكان نهی ده له خروج څخه او بيرون وتلو څخه او ويستلو څخه؛ ځكه كله امر د نهی ضد وي د(مأمور به څخه) . او په يو بل آيت كې الله تعالی فرمايلي دي: (وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ ) او قرار دې ونيسي ـ ښـځې په خپلو كورونو كې . په يو بل آيت كې راځي :(لاَ تُخْرِجُوهُنَّ مِنْ بُيُوتِهِنَّ وَلاَ يَخْرُجْنَ) او مه وباسئ تاسې (ښځې) له كورونو خپلو څخه او په خپله دې هم نه وځي له كورونو خپلو څخه.او بل داچې كه چيرې دوی د كورونو څخه له وتلو ممنوع نشي؛

نو د سکون کور او نسب به مختل شي ؛ ځکه د ښځو په وتلو کې له کورونو څخه خاوندان په شک کې اچوي او په دې يې مجبوروي چې د نسب څخه انکار وکړي. بدائع الصنائع (٢ /٣٣١)
امام قرطبي رحمه الله وايي:{ وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلاَ تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأُولَى } ددې آيت معنا امر دی په لزوم باندې په کور کې ، ولو که دا خطاب دی د نبي عليه السلام زنانه و ته ، خو نورې زنانه په کې د معنا په لحاظ شاملې دي. تفسير القرطبي (١٤ /١٧٩)
امام زيلعي رحمه الله ليکلي دي:( وَحُرْمَةِ خُرُوجِ الْمَرْأَةِ من غَيْرِ مَحْرَمٍ أو زَوْجٍ )تبيين الحقائق (٤ /٢٤٠)
ژباړه: حرام دي وتل د ښځې دي (د کور څخه) پرته له محرمه او بغير د خاوند څخه.

**ج:- د خاوند خدمت کول.**

د خاوند په ښځه باندې بل حق دادی چې ښځه به د خاوند خدمت کوي لکه څرنګه چې حضرت عائشې رضي الله عنها دنبي عليه السلام خدمت کولو . نبي عليه السلام به ورته ويل: (يا عائشة : أطعمينا ، يا عائشة اسقينا ). سنن أبي داود ( ٥ / ٢٩٤)
ژباړه:- ای عائشې ! مونږ ته خوراک راکړه. ای عائشې! مونږ ته اوبه راکړه.
امام بدرالدين عيني رحمه الله په يو مورد کې وايي: (لِأَنَّ عَقْدَ النِّكَاحِ يَقْتَضِي أَنْ تَكُونَ الْمَرْأَةُ خَادِمَةً وَالزَّوْجُ مَخْدُومًا لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ { النِّكَاحُ رِقٌّ } العناية شرح الهداية (٤ /٥٠٠)، والحديث اخرجه البيهقي وغيره عَنْ أَ سْمَاءَ بِنْتِ أَبِى بَكْرٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّهَا قَالَتْ : إِنَّمَا النِّكَاحُ رِقٌّ فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ أَيْنَ يُرِقُّ عَتِيقَتَهُ). وقال: والْمَوْقُوفُ أَصَحُّ. السنن الكبرى للبيهقي (٧ /٨٢)
ژباړه:- ځکه چې عقد نکاح ددې تقاضا کوي چې ښځه بايد خادمه وي او خاوند مخدوم وي، نبي عليه السلام فرمايي: نکاح غلامي ده.( داحديث امام بيهقی او نورو روايت کړی دی چې هغې به ويل : بېشکه نکاح غلامي ده ؛ نو ودې ګوري يو د ستا سې څخه چې چيرته غلاموي خپله آزادي.
البته د حنفي مجتهدينو له نظره د خاوند خدمت کول په ښځه باندې ديانةً واجب دي ؛ نه قضاءً . او نبي عليه السلام د حضرت علي رضي الله عنه او حضرت فاطمې رضي الله عنها ترمنځ کارونه ويشلي ؤ، د کور کارونه يې حضرت فاطمې رضي الله عنها ته حواله کړي ؤ او د بيرون کارونه يې حضرت علي رضي الله عنه ته حواله کړي ؤ. الموسوعة الفقهية الكويتية (١٩ /٤٤)
جمهور مالکيان، امام ابوثور او ابو بکر بن ابي شيبة او ابو اسحاق جوزجاني رحمهم الله وايې چې د خاوند خدمت په ښځه باندې مطلق واجب دی ، ځکه نبي کريم صلی الله عليه وسلم د علي رضي الله عنه د کور کارونه حضرت فاطمې رضي الله عنها ته حواله کړي ؤ او بل په يو حديث شريف کې راځي ، نبي عليه السلام فرمايلي دي: .( لو كنتُ آمرًا أحدًا أن يسجدَ لأحدٍ لأمرتُ الزوجةَ أن تسجدَ لزوجِها) سنن الترمذي (٣/ ٤٦٥)
ژباړه:- که چيرې زه وايې چې امر مې کولای چې سجده وکړي يو بل ته( پرته له الله تعالی) نو ما به ښځو ته امر کړی وو چې خاوندانو ته سجده وکړئ.

**د:- له خاوند سره نيکه زندګي تيرول او له خاوند سره نيکه رويه کول.**

د خاوند په ښځه باندې بل حق دادی چې ښځه به له خاوند سره نيکه رويه او غوره زنده ګي تيروي .خاوند تل زحمت کاږي، کار کوي، کسب کوي او د جسم څخه خولې تويوي، ترڅو د ښځې او اهل لپاره نفقه تياره کړي ، نو دا د هغه د واجبي عمل ترڅنګ د ښځې سره يو ډول نيکي کول دي ، ځکه چې ښځه دخاوند د مال څخه بې قيده او شرطه استفاده کوي ؛ نو ښځې لره هم په کار دي چې د خاوند سره نيکه او حسنه رويه اختيار کړي لکه چې الله جل جلاله فرمايلي دی:(هَلْ جزاءُ الإحسانِ إلَّا الإحسانُ)[الرحمن: ٦٠]ترجمه: نه ده جزاء بدل د احسان نيکي مګر احسان نيکي ده.
همدارنګه په حديث شريف کې راځي نبي عليه السلام فرمايلي دي:( وَمَنْ صَنَعَ إِلَيْكُمْ مَعْرُوفًا فَكَافِئُوهُ) سنن أبی داود- (٢ /٥٢)

ژباړه:- چاچې ستاسو سره نیکي وکړه ، نو د هغې عوض ورکړئ.
په یو بل حدیث شریف کې راځي، نبي علیه السلام فرمایلي دي:(من لم یشکر الناس لم یشکر الله) سنن الترمذي (٤ /٣٣٩)
ژباړه:- څوک چې د خلکو شکر اداء نکړي، هغه د الله تعالی شکر هم نه اداء کوي.
د ښځې د خاوند سره احسان کول او د هغه شکر اداء کول د خاوند سره حسنه او نیک ژوند اختیارول دي، باید د هغه سره ښه اخلاق وکړي، د هغه څخه رضایت ښکاره کړي ، او د خاوند په تصرفاتو خوښي ښکاره کړي او د هغه څخه په کارونو کې اجازت وغواړي.

**هـ:- هغه چاته د کور دداخلیدو اجازه نه ورکول چې خاوندیې بد ګڼي.**

دخاوند په خپلې ښځې بل حق دادی، چې ښځه باید هغه چاته کور ته دداخلیدو اجازه ورنکړي،چې خاوند یې کورته داخلیدل بد ګڼي.
په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَحِلُّ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَصُومَ وَزَوْجُهَا شَاهِدٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ وَلَا تَأْذَنَ فِي بَيْتِهِ إِلَّا بِإِذْنِهِ). صحیح البخاري (١٣/ ١٤٩)
ترجمه:- دابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ښځې ته جایز نه دي روژه ونیسي (نفلي روژه) په داسې حال کې خاوند یې په کور کې وي، مګر د خاوند په اجازه به یې نیسي او جائز نه دي ښځې ته چې چاته کورته دداخلیدو اجازه ورکړي، مګر دخاوند په اجازه.
په یو بل حدیث شریف کې راځي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (فَاتَّقُوا اللَّهَ فِي النِّسَاءِ فَإِنَّكُمْ أَخَذْتُمُوهُنَّ بِأَمَانِ اللَّهِ وَاسْتَحْلَلْتُمْ فُرُوجَهُنَّ بِكَلِمَةِ اللَّهِ وَلَكُمْ عَلَيْهِنَّ أَنْ لاَ يُوطِئْنَ فُرُشَكُمْ أَحَدًا تَكْرَهُونَهُ. فَإِنْ فَعَلْنَ ذَلِكَ فَاضْرِبُوهُنَّ ضَرْبًا غَيْرَ مُبَرِّحٍ). صحیح مسلم (٤/ ٣٩)
ترجمه:- وویریږئ دالله تعالی څخه دښځو په باره کې بیشکه تاسې اخیستي دي ښځې دالله تعالی په امان سره یعني الله تعالی تاسې امین ګرځولی یاستې په ښځو باندې) او تاسو حلال ګرځولي دي ددوی شرمګاه لره په شریعت دالله تعالی سره، او شته دی ستاسو لپاره په دوی باندې ددې خبری حق چې ښځه به اجازه نه ورکوي هیچا ته ددې خبرې چې استعمال کړي بستره ستاسې هغه څوک چې تاسو یې بد ګڼې. ، که چیرې دوی داسې وکړل نو وه یې وهی چې سخت وهل نه وي.

**و:- د خاوند د رازونو او اسرارو پټ ساتل.**

د خاوند په ښځه بل حق دادی چې د خاوند عزت او پت به ساتي، د هغه رازونه به پټ ساتي، د هغه په کمزوریو به پرده اچوي ، د هغه اقتصادي یا نور حالات به خلکو ته نه افشاء کوي، ولو که د ښځې خویندې ، مور او پلار هم وي او یایې نور خپلوان وي.
خپلوانو ته به د هغه د بد اقتصادي حالت په اړه شکایت نکوي ؛ ځکه ښځه د خاوند لباس دی او د لباس خاصیت دادی چې دانسان عیبونه او عورت یې پټوي.الله جل جلاله فرمایلي دي( أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَائِكُمْ هُنَّ لِبَاسٌ لَكُمْ وَأَنْتُمْ لِبَاسٌ لَهُنَّ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَخْتَانُونَ أَنْفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنْكُمْ)[البقرة: ١٨٧]
ترجمه:- حلال کړی شوی دی تاسې ته په شپه د روژې کې یو ځای والې (جماع) ښځو خپلو سره.دوی لباس دي تاسې لره، او تاسې لباس یئ دوی لره معلوم دي الله ته چې بېشکه تاسې یې چې خیانت کوئ په ځانو خپلو. په رجوع یې په رحمت سره وکړه په تاسې باندې او عفوه یې وکړه له تاسې.

ښځه د ژوند ملګری دی، ښځه الله تعالی ددې لپاره پیداکړی ده، چې خاوند یې ترڅنګ د راحت او سکون ژوند تیر کړي او دا کار هغه وخت شوني دی چې ښځه د خاوند د خوښې په فکر کې وي. الله تعالی فرمایلي دي:( وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً)[ الروم: ٢١]ترجمه: او (ځینې) له نښو د دغه (الله) دا دي چې پیدا کړې یې دي تاسې

ته له نفسونو ستاسې ښځې(جوړه) لپاره د دې چې په آرام شئ تاسو د دوی سره (او اطمئن اوسئ)، او ګرځولې یې ده په منځ ستاسې (او د ښځو) کې دوستي او مهرباني، بېشکه په دغه (پیدا کولو د مودت او رحمت په منځ د ازواجو)کې

**۴-د ښځې حقوق پر خاوند باندې .**

د الله تعالی حکمت دی چې د ځمکې په سر یې ژوند د ښځې او خاوند څخه پیل کړی دی او ددوی دواړو ترمنځ د وحدت او یووالي له امله په کورنۍ کې ټولې ناخوالې له منځه ځي. لکه څرنګه چې خاوند په ښځه حقوق لري دارنګه ښځه هم په خاوند باندې حقوق لري چې د ښځې د حقوقو تفصیل په لاندې توګه دی.

**الف:- د ښځې سره حسنه او نیکه زندګي تیرول.**

نیک ، خوږ او حسنه ژوند د ښځې او خاوند ترمنځ ډیر خوند لري او الله تعالی د ښځې سره حسن معاشرې تیرولو په اړه فرمایلي دي: ( وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا ).[النساء: ١٩]

ترجمه:- او ګزران کوئ تا سې( ای مړونو) له دې ( ښځو) سره په نیکې طریقې سره !، پس که خو ښې نه وې ستا سې دا ښځې نو (صبر وکړئ) ښایې چې نه به خوښوئ تاسې یو شی حال دا چې ګرځولوی به وي الله په دې شي کې خیر ډېر.

ددې آیت په اساس په خاوند واجب دي چې د خپلې ښځې سره نیکه معاشره قائمه کړي، دښځې د عزت خیال وساتي او ورسره نیک رفتار وکړي چې دا کار ددوی په زړونو کې الُفت پیداکوي او د دوی د وحدت او یووالي سبب ګرځي، کوم چې د واده فلسفه ده.

د ښځې سره نیکه رویه اختیاول او ورسره احسان کولو معنا داده چې ظلم به ور باندې نه کوي او غوره علاقه به ورسره ساتي او رفق او مهرباني به ور باندې کوي. که چیرې له ښځې څخه کومه اشتباه وشي باید خاوند سترګې ورباندې پټې کړي او له ګذشت څخه کار واخلي.

د ښځې حق دی چې خاوند دښځې د خوشحالۍ او خوښۍ په خاطر په وینا او کړنه کې نرمي اختیار کړي، خاوند باید په کارونو کې د ښځې سره مشوره وکړي او کوښښ دې وکړي چې رضایت یې ترلاسه کړي.

په یو آیت کې الله تعالی فرمایي : {وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ} البقرة : ٢٢٨

ترجمه:- او شته دي ښځو لره (حقوق په میړونو(خاوندانو) باندې) په شان د هغو (حقوقو) چې په دوی دي (خاوندانو) په معروف (ښه وجه) سره

په حدیث شریف کې راځي:عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :« استَوصُوا بِالنُّساءِ ؛ فَإِنَّ المَرأَةَ خُلِقَت مِن ضِلَعٍ، وَإِنَّ أعوَجَ شَيءٍ فِي الضِّلَعِ أعلاَهُ ؛ فَإِن ذَهَبتَ تُقِيمُهُ كَسَرتَهُ، وَإِن تَرَكتَهُ لَم يزَل أعوَجَ، فَاستَوصُوا بِالنُّساءِ».متفق عليه

ژباړه:- له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : د ښځو په هکله د خیر او ښیګڼې توصیه وکړئ، ځکه ښځه د پوښتۍ له هډوکې څخه پیدا شوې ده او بیشکه ډیره کږه پوښتۍ کې هغه ، هغه پورتنۍ وي که غواړې چې سمه او نیغه یې کړې، نو ماته به یې کړې او که په خپل حال یې پریږدې، نو کږه پاتې کیږي، نو ښځوته په نیکۍ توصیه کوئ.

په یوبل حدیث شریف کې راځي: عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : لاَ يفرَكُ مُؤمِنٌ مُؤمِنَةً ؛ إن كَرِهَ مِنهَا خُلُقاً، رَضِيَ مِنهَا آخَرَ) . رواه مسلم

ترجمه:- له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: باید مؤمن سړی د مؤمنې ښځې څخه نفرت ونه لري . هرکله که یو خوی یې د دې خوښ نشي یو بل خوی به یې خوښ راشي .

**ب:- ښځې ته ددیني مسائلو زده کول پر خاوند حق دی.**

الله جل جلاله فرمايلي دي.(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا).[التحريم: ٦]
ترجمه:- ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! وساتئ تاسې ځانونه خپل او کور کهول خپل (په اطاعت د الله) له اور څخه .

د اهل څخه مراد کورنۍ ده چې د هغوی ساتنه له اور څخه په نصیحت او د علم په زده کړې سره کیږي.

**ج:- د ښځې نفقه پر خاوند واجب ده .**

د ښځې نفقه په خاوند باندې واجب ده او د نفقې څخه مراد د ښځې خوراک، څښاک، لباس او د اسیدو کور دی.

الله جل جلاله فرمايلي دي:( لِيُنْفِقْ ذُو سَعَةٍ مِنْ سَعَتِهِ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنْفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا)[الطلاق: ٧]

ژباړه:- نو نفقه دې ورکوي خاوندان د طاقت له طاقته شـتو خپلو نه، او هغه چې تنګ کړ شي په ده باندې رزق د هغه، پس نفقه دې کوي له هغه څنې چې ورکړي وي هغه لره الله، نه ورکوي تکلیف الله هیڅ نفس لره مګر خو په هغه قدر چې ورکړی وي هغه لره (له ماله).

په یو بل آیت کې راځي:( وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ ) [البقرة: ٢٣٣].
ترجمه:- او ده پر هغه چا باندې چې بچي زیږول شـوی دی ورته(یعنی پلار)، روزي د دوی (یعني د میندو) او کالي (جامې) ذ دوی (یعني د میندو) په معروف سره.
حافظ ابن کثیر په خپل تفسـیر کې لیکي: یعنې د ماشـوم په پلار د میندو نفقه او جامه په نیکه طریقې سره لازم ده د عادت مطابق چې ددې په شـان د نورو ښځو څرنګه نفقه وي ، ددې به هم همغسې نفقه وي بغیر له اسراف او کمي څخه د خاوند قدرت او توان په اندازه. تفسیر ابن کثیر (١ /٣٥١)
اسلام مبارک دین د ښځې نفقه په خاوند ځکه واجب کړی ده چې د نکاح په وجه ښځه دخاوند په خدمت کې مصروفه وي او پرته له حاجته او پرته د خاوند د اذن څخه بیرون ته د کسب لپاره له وتلو څخه ممنوع ده نو اسـلامي شریعت يې نفقه په خاوند واجب کړی ده. دښځې په خاوند د ښځې نفقه د خاوند د توان په اندازه واجب ده ولو که ښځه غني وي.
په یو حدیث شریف کې راځي، نبي علیه السلام فرمايلي دي:(وَلَهُنَّ عَلَيْكُمْ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ) صحیح مسلم (٤ /٣٩)
ژباړه:- او شته دی ښځو لره پر تاسې د هغوی رزق او د هغوی جامه په نیکه طریقه .
**د:- د مهر حق.**
په خاوند باندې د ښـځې مهر واجب دی. دښـځو د حقوقو څخه یو هم دمهر حق دی. مهر د پیغلې او کونډې دواړو لپاره واجب دی.
الله جل جلاله فرمايلي دي: ( وآتوا النساء صدقاتهن نحلة) النساء:۴]ترجمه: او ورکړئ ښځو ته د هغوی مهرونه د ډالۍ په توګه.خاوند مکلف دی چې د ښځې مهر په مکمل ډول ورکړي .میړه حق نه لري چې د ښځې له مهر څخه څه د ځان لپاره واخلي مګر د ښځې په اجازه او خوښۍ سره .
**هـ:- دښځو ترمنځ عدالت رعایتول.**
د ښـځې د حقوقو څخه داهم ده چې که چیرې خاوند يې له یوې څخه زیاتې ښـځې ولري د شـپې په تیرولو کې باید د دوی تر منځ عدالت وشي
څوک چې له یوې څخه زیاتې ښځې ترڅلورو پورې ولري دهغوی ترمنځ د شپې په نوبت کې ، نفقه ، لباس او مسکن کې باید عدالت رعایت کړي.

دشپې دنوبت تیرولو، مسکن ، نفقه او لباس د ښځو هغه حقوق دي چې دانسان دتوان څخه پورته نه وي.

الله تعالی فرمايلي دي:{وَإِنْ خِفْتُمْ أَلا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَلِكَ أَدْنَى أَلا تَعُولُوا} النساء:٣

ترجمه:- که چیرې تاسو ددې څخه ویره لرئ چې د یتیمانو ښځو په نکاح کولو سره به انصاف ونه کړئ، پس په نکاح کړئ نورې هغه ښځې چې ستاسو خوښې وي دوه دوه، درې درې، څلور څلور، که چیرې ددې څخه ویریږئ چې له یوې څخه د زیاتو ښځو په منځ کې به عدالت تامین نه کړئ بیا یوه ښځه په نکاح کړئ او یا هغه وینزه په نکاح کړئ چې ستاسو په لاسونو کې دي، دا حکم دې ته نږدې ده چې تاسو به ظلم ونه کړئ.

په یو بل آیت کې الله تعالی فرمايلي دي:{وَلَنْ تَسْتَطِيعُوا أَنْ تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ وَإِنْ تُصْلِحُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُوراً رَحِيماً} النساء:(١٢٩)

ترجمه:- او تا سوهیڅکله نشي کولای چې پوره عدالت تامین کړئ د ښځو په منځ کې اګرکه ډیر حرص هم ولرئ، بیاهم مکمل یوې ښځې ته (اختیاري) میلان مه کوئ داسې چې بله ښځه معلقه وساتئ چې نه یې په نکاح کوئ او نه ورته طلاق ورکوئ، که چیرې تاسو صلح وکړئ او له الله وویریږئ بیشکه الله تعالی دی ښښونکی مهربانه.

په یو حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:( مَنْ كَانَ لَهُ امْرَأَتَانِ يَمِيلُ لِإِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَحَدُ شِقَّيْهِ مَائِلٌ) سنن النسائي بشرح السيوطي وحاشية السندي (٧/ ٧٤)

ترجمه:- ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی؛ چې ر سول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي دي: دچا چې دوه ښځې وي او یوې ښځې ته د بلې په نسبت (اختیاري) میلان کوي د قیامت په ورځ به راشي او یو بازو به یې کوږ وي.

پاته دې نه وي په نصوصو کې چې د کوم میلان څخه ممانعت راغلی دی، دهغې څخه اختیاري میلان مراددی؛ ځکه په غیر اختیاري میلان کې مواخذه نشته.

علامه کا ساني رحمه الله فرمايي: ددغه مسائلو له جملې څخه یو هم د ښځو ترمنځ د عدالت د وجوب مو ضوع ده. خلا صه داچې که څوک له یوې څخه اضافه ښځې ولري پرهغه واجب دي چې دهغوی ترمنځ دشپې په نوبت کې، نفقه او لباس کې عدالت مراعت کړي. تر دې پورې چې که دچا دوه آزاده ښځې وي او یا هم دوه وینزې ولري پرده واجب دي چې ددوی ترمنځ دشپې په نوبت کې ، نفقه کې ، مسکن کې ، خوراک او څښاک کې عدالت مراعت کړي. بدائع الصنائع (٢/ ٣٣٢)

همدا رنګه د ښځو دحقوقو په اړه د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله ځانګړی فرمان داسې حکم کوي: (کوم څوک چې متعدد ودونه ولري، مکلف دی چې ټولو ښځو ته د شرعي حکم سره سم شرعي حقوق ورکړي او ترمنځ یې عدل وکړي).

**اقول قولي هذا ، استغفر الله لي ولكم ولسائر المسلمين.**

بسم الله الرحمن الرحيم

# ۲۴ د اسد د فتحې او کامیابۍ ورځ دې د افغانستان ټول ملت ته مبارک وي

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الهدى محمد وعلى آله وصحبه أجمعين وبعد.

په لومړي قدم کې دامریکا او دهغه دمتحدینو په مقابل کې دافغانستان داسلامي امارت دمجاهدینو کامیابي او فتحه د افغانستان ټول ولس ته مبارکي وایو.

د نن څخه (۲۴ ) کاله مخکې اشغالګرې او د نړۍ زبرځواک امریکا او دهغې متحدینو د ځمکې او هواء له لارې زمونږ په ګران هیواد افغانستان باندې حمله وکړه او زمونږ ګران هیواد یې اشغال کړ او د شلو کلونو په موده یې بې رحمانه ظلمونه زمونږ په ګران ولس وکړ او پس له شلو کولونو هوایي بمباریو، زمکني کمینونو او چاپو، دمجاهدینو د ترلو او د زندانونو په تورو تیارو کې له اچولو څخه وروسته په ډیره بې شرمۍ، په ټیټو سترګو او تورمخ سره دمقدس جهاد له برکته د اسد په ۲۴ تاریخ خپل شکست ومنلو او زمونږ د ګران هیواد افغانستان څخه ووتل او دالله جل جلاله وعده ریښتنې شوه چې فرمایلي دي:{سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ}[القمر: (٤٥)

ترجمه: زر دی چې ماته به ورکړل شي دغه ډلې ته او ټول به شا اړوونکي تښتیدونکي ولیدل شي.

په دې اساس په خپل ځان دَین بولو، چې د هغو ټولو شهیدانو ارواحو ته دعاء وکړو چې ځانونه یې د دین، ملت او هیواد د آزادۍ لپاره نذرانه کړل او هغو ټولو زخمیانو ته د کامل صحت او اجر دعاء وکړو، چې د خپل شیرین جسم اعضاء یې ددین او د ملت د سرلوړۍ لپاره د لاسه ورکړل . همداراز هغو کونډو او یتیمانو ته دعاء وکړو او د هغوی لاس نیوی وکړو چې د اشغالګرو کفارو او صلیبیانو له خوا یې خپل مړو د لاسه ورکړي دي او تنکیو ماشومانو خپل مهربانه پلرونه له لاسه وکړي دي.

بناءً د افغانستان ملت ته په کار دي چې ددې بریا او کامیابۍ شکر اداء کړي او دا ورځ د خوشحالۍ او خوښۍ ورځ وګرځوي او دا ورځ د افغانستان د استقلال، آزادۍ او خپلواکۍ ورځ په توګه ولمانځي او د خپلو خوښیو اظهار وکړي او دا ورځ دملت د عزت او برم د نشان په توګه ومني.

د افغانستان ولس او داسلامي امارت سپیڅلو مجاهدینو د الله تعالی په وعده باندې کلک ایمان او عقیده درلوده چې فرمایلي یې دي د الله تعالی په ځمکه کې تمکین، غلبه او استخلاف د مؤمنانو په برخه دی، لکه چې فرمایي: وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ}النور: (٥٥)

ترجمه:- وعده کړی ده الله تعالی له هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی دی له تاسې او کړي یې دي ښه عملونه ، قسم دی خامخا(الله ) به خلیفه ګان کړي دوی په ځمکه کې لکه چې خلیفه ګان کړي یې وو هغه کسان چې پخوا وو له دوی نه او خامخا ثابت قوي به وګرځوي هرو مرو دوی ته دین ددوی هغه دین چې غوره کړی دی (الله ) دوی ته او هرو مرو بدل به ورکړي هرو مرو دوی ته وروسته له ویرې ددوی له دښمنانو امن (او اطمینان) عبادت به کوي دوی زما، شریک به نه پیدا کوي له ما سره هیڅ څیز.

**متدین ملته!**

په دې کې هیڅ شک نشته چې داسلامي امارت مجاهدینو دهغه سالم برداشت څخه چې دخپل دین او کلتوراو تاریخ څخه یې درلود دا قرباني یې خپله دنده ګڼله چې دمتجاوزو استعمارګرو قدرتونو په مقابل کې چوپ پاتې نه شول او دخپل هیواد دآزادۍ لپاره یې پاڅون وکړ او جهاد ته یې ملا وتړله ؛ ځکه چې آزادي او حریت د الله تعالی ستر نعمت او د نړۍ زبرځواکونو غلامي سپکاوی، ذلت او محرومیت دی.

د نن ورځو په شان دافغانستان مجاهد ولس د تاریخ په اوږدو کې دخپلو مبارزو په برکت تل دخارجي متجاوزینو په مقابل کې بریالی شوی دي، دمجاهدینو دبریالیتوب راز ټینګ ایمان او په خپل دیني ارزښتونو کلکه عقیده، دآزادۍ او آزاد ژوند سره مینه او د ولس په منځ کې ملي یووالی دی چې هیڅ رنګ او ژبه نه پیژني، ترک، تاجک، پښتون، هزاره ، بلوڅ او پشه یي ټول یو دبل سره د ورونو په شان یوځای سنګر ته تللي او بالآخره چې بریایې په برخه شوی ده.

ډیر دشکر ځای دی چې خپله آزادي او کامیابي مو تر لاسه کړه او په همدې تاریخ مو امریکا او دهغوی متحدین دې ته مجبور کړل ؛ چې اشغال ته دپای ټکې کیږدي او زمونږ له ګران هیواد څخه ووزي.

آزاد او سرلوړي ولسونه، په لوړو او ژورو کې او د زمانې په بدو شرائطو کې خپل استقامت او استحکام له لاسه نه ورکوي او دحالاتو په تورو تاریکیو او مشقتونو کې د الله تعالی په رسۍ منګولی لګوي،ثبات، صبر، له ځانه تیریدنه، دالله تعالی د اوامرو منل خپلو اولادونو او صالح خلف ته په میراث او ډالۍ کې ورکوي او پریږدي.

دافغانستان متدین ولس دا سلام دمبارک دین دظهور څخه پیل په دین، ناموس او ګرانې خاورې باندې غیرت او دفاع چې لوېشت لوېشت خاوره یې د شهیدانو په وینو سره ده- خپله تر ټولو لویه وظیفه ګڼلې او دهر متجاوز په مقابل کې په نره سره خپل شهامت او دفاع ښکاره کړې ده؛ چې تاریخ وربانډې ګواه دی.

د نن ورځ آزادي چې ستر نعمت دی د افغانستان د اسلامي امارت دمجاهدینو د سر ښندنو، قربانیو په قیمت ترلاسه شوی ده، چې شکر یې پر ټول ملت فرض دی.

همدا راز استقلال او آزادي چې زمونږ دمجاهدینو، شهیدانو ، زخمیانو په هڅه او هاند ترلاسه شوی ده، باید هغه تل پاتې وساتو او له هغې څخه په کلکه دفاع وکړو او د هرمتجاوز او تخریب کار په مقابل کې د خپلو بې دفاع ولس او وطن څخه ددفاع په موخه ودریږو او دخپلې آزادۍ څخه په خپل یووالي او ووحدت سره حفاظت وکړو.

داچې په هیواد کي اشغال پای ته رسیدلی دی او الله تعالی زمونږ ملت ته استقلال ورپه برخه کړی دی،باید یو ځل بیا خپل تعهد تازه کړو او ووایو چې مونږ ټول افغانان سره ورونه یو، په ورورګلوۍ باور لرو او په دې خبره تاکید کوو چې مونږ سره نه بیلیږو، هوډ لرو چې وطن کې مو تل پاتې ارامي، صلح ، ثبات ، اقتصادي پرمختګ او لکه دنیکونو او پلرونو په څیر یو دبل په څنګ کې د ورورولۍ هوسا ژوند ولرو.

**وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ بِعَزِيزٍ**

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته**

**د مساجدو او حُسینیو دارشاد او انسجام لوی ریاست**